# په تاسو کې هیڅوک مومن کیدلی نه شي؛ تر څو چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ کړي چې د ځان لپاره يې خوښوي

د ابو حمزه انس بن مالک رضي الله عنه څخه – چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم خادم و – روايت دی، چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "په تاسو کې هیڅوک مومن کیدلی نه شي؛ تر څو چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ کړي چې د ځان لپاره يې خوښوي".
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې هېڅ مسلمان تر هغه پورې د بشپړ ایمان خاوند کېدلی نه شي تر څو چې خپل مسلمان ورور ته هغه څه خوښ کړي چې ځانته يې خوښوي هغه که: طاعتونه او یا هر ډول دیني او دنیوي ښېګڼې وي او دا چې څه د ځان لپاره بد ګڼي د هغه لپاره يې هم بد وګڼي، نو که چېرته يې په خپل ورور کې دیني نېمګړتیا ولیده، په اصلاح کې يې زیار باسي او که کومه ښېګڼه يې پکې ولیده نو ملاتړ يې کوي او د دین او دنیا په اړه يې ورته نصیحت کوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66520